# د پښتو ژبې د لهجو صوتیاتي بنیادونه

**Phonetic bases of the varieties' formation in Pashto**

ډاکټر یوسف جذاب*


**Abstract:**

Pashto is an Indo-Iranian language that hosts a bunch of varieties. Local as well as western scholars and linguists did not only shed light on these varieties, but have linked them in various dialect groups on the basis of numerous criteria. One of these is linguistic one but it is also limited to phonetic realizations of some segmental phonemes (consonants only) ranging from two to five. It was not before 2015 when in the inventory of Pashto phonemes vowels also got its inclusion. This research article, "Phonetic bases of the varieties' formation in Pashto", explores linguistic aspects, employing both consonant and vowel phonemes, of these dialects with reference to different tribes of Pashtoon people. In addition, ample examples of these phonetic realizations have been produced indicating the tribal and geographical distributions of these pronunciations.


**Key words**: Pashto, dialect, variety formation, classification.

## د پښتو ژبې لهجې:

پښتو یوه زړه ژبه ده ځکه لهجې هم زیاتي لري، او په دغو لهجو کښې څرګند فرق هم شته بلکه حقیقت به دا وي چې د پښتنو د استوګنې ځایونه د جغرافیایي موقعیت له مخې داسې دي چې د دوی هره قبیله یې له بلې نه جدا ساتلې ده، چرته د دوی په مېنځ کښې سیندونه حائل دي، چرته دریابونه او چرته اوچت اوچت غرونه، هم په دې وجه او په تېرو وختونو کښې د رسل و رسائل د نشتوالي له کبله د هرې قبیلې لهجه ځان ته ګوښې په یو یونټ کښې پاتې شوې ده. هرې قبیلې خپل مورني خاصیتونه سینه په سینه ژوندي ساتلي دي دا خو یو عنصر شو. بل عنصر دا دی چې د پښتنو علاقه همېشه له پاره د تاریخ په اوږدو کښې د یرغلګرو لاره پاتې شوې ده په مختلفو سیمو کښې د مختلفو یرغلګرو اثرات په متعلقه لهجو غورځېدلي دي او په دا شان یې یوه لهجه له بلې بل شان جوړه کړې ده. دلته یوه بله خبره هم یاد ساتل پکار دي هغه دا چې پښتانهٔ د وسطي ایشیا او د براعظمګي ترمېنځه د یوې پټې (Belt) په څېر پراته دي دا پټۍ ډېره اوږده ده چې څوارلس سوه میله اوږدوالی لري، دې پټۍ سره اخوا دېخوا ډېر نور قامونه پراته دي او دا یو فطري امر دی چې د دې اثر به په متعلقه لهجو غورځېدلو، که موږ د پښتنو د مختلفو قبیلو تاریخي او ثقافتي ژوند په نظر کښې وساتو نو د دوی د ژبو (لهجو) ترمېنځه د تفاوت په اسبابو په اسانه پوهېدلی شو. پښتانه د تاریخ په مختلفو دورونو کښې هم په دغه

---

* Assistant Professor, Govt Post Graduate College, Bannu

اوږده پټۍ کښې په يو ځاي مستقل نه دي استوګن شوي بلکه د روزۍ په تلاش کښې يې د کوچيانو ژوند ته ترجيح ورکړې ده. يقيني خبره ده چې د رزق په تلاش کښې به دوی د نورو خلقو سره هم مخامخ شوي وي، هغو په دوی او دوی به په هغو اثر غورځولی وي، د پښتنو ژبه به هم د دې اثر نه نۀ وي بچ شوې، دا ټول داسې عوامل دي چې د پښتنو د يوې قبيلې ژبه يې له بلې لرې بوتلې ده په نورو لفظونو کښې به داسې ووايو چې د هرې قبيلې ځان ته يوه لهجه ده د مختلفو پښتني قبيلو تر مينځه لهجوي فرق په شا هم هغه عواملو رول لوبولی دی کوم چې ډاکټر هدايت الله نعيم صاحب په پښتني متل د نۀ پوهېدو په سلسله کښې بيان کړي دي چې دا دي:

"(اول) زماني عنصر (Time Factor) (دويم) مکاني عنصر(Place Factor) (دريم) معاشرتي او اقتصادي عنصر (Socio-Economic Factors) ."(1)

او شايد هم دا وجه ده چې د پښتو خورا ډېرې لهجې دي، سر محقق زلمی هېواد مل صاحب د فرهنګ ادبيات پښتو (۱۵۲۳) په حواله ليکي:

"پښتو خپله يوه مستقله شمالي ختيځه اريايي ژبه ده چې په لسګونو لهجې لري تر اوياوو زياتې لهجې يې ثبت شوې دي، دا شمېره د پښتونخوا د ټولو لهجو له څېړلو سره نوره هم زياتېږي." (2)

اګرکه د پښتو د لهجو شمېر، لکه چې تاسو وکتل، له دوه اوياوو اوړي خو هېواد مل صاحب د دې لهجو تفصيل نه دی راوړی دلته موږ خالص په لسانياتي بنيادونو د پښتو د لهجو ښاخونه يا ګروپونه جوړوو، په دې لسانياتي بنيادونو کښې ځنې دا دي:

د /ش/، /خ/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ په بنياد د لهجو ښاخونه

- د /ژ/ د ادائيګي په بنياد لهجې
- د /ز/، /ج/، /ځ/ او /س/، /چ/، /څ/ په بنياد لهجې
- د واول په بنياد د لهجو ښاخونه

لاندې د دې اوازونو په بنياد مخ ته راتلونکې لهجو باندې په تفصيل سره بحث کېږي.

د /ش/، /خ/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ په بنياد د لهجو ښاخونه

د پښتو ژبې محققينو او د لسانياتو ماهرينو د پښتو ژبې د لهجو دوه غټ ښاخونه ښودلي دي دوی دا وېش د دوو اوازونو په بنياد کړی دی چې /ش/، /خ/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ دي يعني د پښتو هغه قبيلې چې د /ښ/ په ځاي /خ/ او د /ږ/ په ځاي /ګ/ تلفظوي هغه د يوسفزيو ډله بللی شي او هغه قبيلې چې د /ږ/ په ځاي /ژ/ او د /ښ/ په ځاي /ش/ تلفظوي هغوي ته د قندهار يا ختيځو ډله وئېلی شي، په مشترکه رسم الخط کښې دې اوازونو له پاره په ترتيب سره /ښ/ او /ږ/ استعمالېږي چې د ځينو ژبپوهانو په خيال فونيم نه دي علامات دي او فقط د لهجو نشان دهي کوي دلته دا وضاحت ضروري

دی چې د /ش/ او /خ/ او د /ګ/ او /ژ/ اختلاف په ټولو لفظونو کښې نه دی بلکه په ځینو لفظونو کښې دی ځکه چې د دې اوازونو خپل خپل فونیمي حېثیت خو هم شته لکه پیشو او ګل به هر څوک هم دغه شان وایي، خیال بخاري صاحب د /ش/، /خ/ او /ګ/، /ژ/ په بنیاد د لهجو دوه غټ ګروپونه دارنګ جوړوي:

" زموږ د تلفظ لوی او همه ګیر اختلاف په /ږ/ او /ښ/ کښې دی، په دې لحاظ سره موږ ټول اولس په دوو لویو ډلو کښې تقسیمولی شو یعني: (۱) د یوسفزیو ډله (۲) د قندهار یا د خټکو ډله، [د] یوسفزیو ډله کښې یوسف زي، مندڼ، محمدزي، ګګیاڼي،افریدي، برمهمند، کوزمهمند، شنواري، ننګرهاري، داودزي، خلیل وغیره غټې قبیلې شاملې دي، دغه شان د قندهار په ډله کښې د قندهار خواوشاه کاکړ، پشین، وزیر، محسود، خټک، ګنډاپور وغیره قبیلې شاملولی شو."(3)

د /ش/، /خ/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ په بنیاد دلهجو د ګروپونو نمونه

لکه چې مخ کښې ذکر وشو چې ډاکټر خیال بخاري صاحب د لهجو دې دوو غټو ښاخونو له پاره د "یوسفزو ډله" او د "قندهار یا خټکو ډله" نوموونه خوښ کړي دي، ډاکټر خالدخان خټک صاحب هم دا نوموونه خوښوي لکه چې لیکي:

**ژباړه**: "پشتون قوم په صوتیاتي حواله په دوو ګروپونو کښې تقسیم دی، یو ته یوسفزۍ ګروپ او بل ته خټک یا قندهار ګروپ وئیلی شي په دې دواړو کښې په بنیاري توګه د څلورو (یا پنځو) اوازونو اختلاف دی."(4)

ځینې عالمان د بره پښتون خوا لهجې ته پسته او د لره پښتون خوا لهجې ته سخته لهجه وایي پریشان خټک صاحب هم د پښتو د لهجو دوه لوي ښاخونه ګڼي، دوی همدغه لهجو ته نرمه او پسته لهجه وایي، د دغه دواړو غټو لهجو متعلق د دوی تفصیل داسې دی:

"په صوبه سرحد قبائیلي علاقه او افغانستان کښې چې کوم پښتانه اباد دي اګرکه د هغوی ټولو ژبه پښتو ده ولې لهجې یې مختلفې دي. هسې خو هر لس شل میله نه وروستو په سخته لهجه، لهجه کښې څۀ لږ ډېر فرق راځي ولې لویې لهجې دوه دي. یوه نرمه لهجه او دویمه نرمه لهجه هغه ده په تلفظ د فارسۍ په طرز کېږي مثلاً شهر ته شار وایي ولې هم دې لفظ ته په سخته لهجه کومه کښې چې د لفظونو کېږي، لکه چادر ته نرم لهجې والا کښې خار وایي دا شان د "ژ" [/ژ/] او "ګ" [/ګ/] په تلفظ کښې اکثر فرق موندی شي دا حال د ځینو لفظونو دی کوم چې په فارسۍ کښې د "چ " [/چ] نه شروع کېږي لکه چادر ته چې د نرم لهجې والا چادر او سختې لهجې والا سادر وایي- "(5)

دلته باید دا وضاحت وشي چې د نرمې لهجې ټول خلق د /ښ/ یا /س/ په ځاي /چ/ نه استعمالوي لکه څنګه چې پریشان صاحب لیکلي دي بلکه مروت او ګنډاپور /څادر/ ته /چادر/ وایي او /څ/ په /چ/ بدلوي، (په دې مخکښې خبره راځي) ولې د پښتو ژبې ننني عالمان د پښتو لهجې دغه دوو ښاخونو له پاره پاس ذکر شوي نومونه ناسم بولي او د دوی اعتراض په دې وجه هم سم ښکاري چې د یوسفزیو او ختکو یا د قندهار خلقو سره نوره ډېرې قبیلې هم په دغو لهجو کښې خبرې کوي. دغه رنګ نرمه لهجه او پسته لهجه نومونه هم صحیح نه دي. دا سپیناوی ډاکټر هدایت الله نعیم صاحب ډیر په ښه توګه کړی دی:

"ځینې خلق لوارې لهجې ته یوسفزۍ لهجه وایي او نرمې ته د ختکو لهجه وایي، حقیقت دا دی چې دغه دواړه خبرې غلطي دي، صحیح خبره دا ده چې تقریبا پنځه سوه کاله راهسې د پېښور او ننګرهار نه واخلې ترکویټې او قندهاره پورې په مېشته پښتونخوا کښې قطبي پښتانه لواړه یا سخته لهجه لري او سویلي پښتانه نرمه یا پسته لهجه کښې خبرې کوي. دکومو قبیلو نومونه چې اخستی شوي دي د دغو نه نورې ډېرې قبیلې او په شمېر کښې ډېر پښتانه په مذکوره لهجو کښې خبرې کوې د مثال په توګه که هم د دغو قبیلو نوم اخستی شوی وي یا واخستی شي نو بې ځایه به وي ولې چې د مثال په توګه دلهجو د نوم اخستلو د پاره د پیښور و ننګرهار یا کویټې و قندهار نومونه اخستل پکار دي ځکه چې وړومبي ځایونه د سختې لهجې د خلقو مرکزونه دي او وروستي د نرمې لهجې او [د] کومو قبیلو نومونه چې چا اخستي دي دغه خو د مذکوره مرکزونو نه ډېر لرې مېشته دي."(6)

او نرمه او پسته لهجه ځکه درست نه دي چې په دې کښې د بلوچستان پښتانه له منځه وځي لکه چې نعیم صاحب لیکي:

"ځنې خلق ټوله پښتو په دوو لویو لهجو کښې تقسیموي د بره پښتونخوا لهجې ته پسته او ښکته دې ته لواړه لهجه وایي مګر په دې طریقه د بلوچستان پښتانه ترمنځه پاتې کېږي ولې چې دوي اوسي لاندې او لهجه یې د برنو پښتنو سره ورته ده ځکه نو زما په خیال چې موږ جنوبي پښتانه په پسته لهجه کښې وشمېرو او شمالي په لواړه کښې، په دې سمون د ښکته او بره هغه خبره هم ختمېږي او د لهجې په لحاظ دلته د ننګرهار نه تر پېښوره او هلته د قندهار نه ترکویټې او حتیٰ تر ختکو او مروتو پورې په کښې د لهجو د ورته والي حق هم ادا کېږي."(7)

د نعیم صاحب د خبرو لنډیز دا دی چې یا خو دې یوسفزۍ او قندهارۍ لهجو ته سوېلي او قطبي لهجه ووئېلی شي او یا دې د مرکزي ښارونو په نومونو باندې وبللی شي یعني پېښورۍ یا ننګرهارۍ لهجه او د کویټې یا قندهار لهجه او دا خبره معقولیت هم لري،ځکه چې کلیو، بانډو، ښارونو

همېشه د پاره په هره حواله د مرکزي او غټو ښارونو پېروي کړې ده بله خبره دا ده چې دې لهجو د پاره مستشرقینو د Hard Dialect او Soft Dialect نومونو سره سره Eastern Dialect او Western Dialect نومونه هم راوړي دي -

"د پښتو د لهجو د دوو غټو ښاخونو په بابله موږ دلته دغو لهجو له پاره د پېښور- یوسفزۍ ګروپ او د خټک- قندهار ګروپ نومونه خوښوو ځکه چې د لهجو نومونو د پاره دا نومونه په جغرافیایي، تاریخي، سیاسي، لساني، نسلي او د ټولو نه زیات په علمي او سائنسي بنیادونو مناسب ترین نومونه دي. ښاغلی کېرو د ذکر شویو دواړو لهجو نمائندګي په ترتیب سره په "پختو" او په "پشتو" کوي او "پختو" د پېښور لهجه بولي. " (8)

ځکه به په راتلونکي بحث کښې هم د خټک- قندهار ګروپ او پېښور- یوسفزۍ ګروپ نومونه راوړلی شي.

د /ش/، /خ/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ په بنیاد د لهجو کرښه

اوس راګرځو هغه کرښې ته چې ښاغلي اولف کېرو بره ذکر شویو لهجو تر منځ راښکلې ده او د دواړو لهجو تر منځه بېلتون کوي، موصوف دا کرښه په بره پښتونخوا کښې داسې تېره کړې ده.

"دغو دوو ترمنځ د وېش کرښه نږدې له ختیځ نه لوېدیځ خواته تېرېږي، دا کرښه له اباسین څخه په اټک کښې له سهېل څخه پېل کېږي او له کوهاټ څخه تېرېږي، د میران زو دره تر ټل پورې نیسي او بیا د کرمې د سیند د سهېل ته تر اریوب او شترګردن غاښي پورې رسیږي، د دې کرښې شمال ختیځ ته زېږه لهجه وئیلی کېږي او دا د پېښور د قبائیلو، دیر، سوات، بونېر، باجوړ، اپریدیو،اورکزیو، شینواریو، بنګښو او توریو ژبه ده، جنوب لوېدیځ خوا ته پسته لهجه وئیلی کېږي، ټول دراني او غلځي په دې لهجه کښې شامل دي."(9)

او ښاغلی عبدالحلیم اثر صاحب هم د دې اوازونو په بنیاد دا کرښه داسې تېروي:

"د قلات غلزۍ نه د قندهار قطب قبلې ته دا کرښه تاو شي د لوانه نومې علاقې په قطب کښې تېره شي، په کندر نومې دریاب پورې وځي، دومندۍ ته رااوړېده شي، بیا د هغې ځای نه د قطب نمرخاته په لوري د خوست د غاړو نه د ټل، هنګو، درې او جاناکوړ په غاړه د غرونو په لمن کښې د وادۍ پېښور نمرخاته پلو ته د یوسفزیو او د خټکو تر بریده اوړېده راښکلی شي."(10)

"د دوی مطابق مهمند (څه حصه)، خوګیاڼي، څمکني، ځدراڼ، ځاځي، خوست وال (افغانستان)، ګدون، یوسفزي، مهمند، د باجوړ ترکاڼي، خلیل، ګګیاڼي، ملاګوري، شینواري، داودزي، ماموندزي او د کرمې توري او اورکزي /خ/ ادا کوي او دراني، ترین،

توخي، اڅکزي، نورزي، الکوزي، څهٔ حصه د کاکړو (افغانستان)، اڅکزي، کاکړ، وزیر، محسود ، بنگښ، شیتک، مروت او خټک /ش/ ادا کوي/."(11)

د/ش/، /خ/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ صوتي تبادل

اوس په اخره کښې د پېښور- یوسفزی ګروپ او خټک- قندهارګروپ تر منځه د دې اوازونو د تبادل مثالونه وګورئ:

(۱) د/ خ /، /ش/، /ښ/ مثالونه:

| پېښور- یوسفزی ګروپ | خټک - قندهارګروپ | مشترکه رسم الخط |
|---|---|---|
| پخه | پشه | پښه |
| پختون | پشتون /پشتین | پښتون |
| پوختنه | پوشتنه/پشتنه | پوښتنه |
| خاپېری/ خوپېری | شاپېری /شوپېریې/ شوپېرې | ښاپېری |
| خادي/ خودي | شادي/شودي | ښادي |
| خار | شار | ښار |
| خاغلې/ خوغلې | شاغلاي/شوغله | ښاغلی |
| خایسته/ خویسته | شایسته/ شوویسته | ښایسته |
| خزه | شزه/ شځه | ښځه |
| خکار/ خکور | شکار/شکور | ښکار |
| خېرازه/ خېروزه | شېرازه/ شېروزه | ښېرازه |
| خېګړه | شېګړه | ښېګړه |
| خهٔ | شهٔ | ښهٔ |
| ماخام/ ماخوم | ماشام/ماشوم | ماښام |

(۲)د /ګ/، /ژ/، /ږ/ مثالونه:

| پېښور- یوسفزی ګروپ | خټک - قندهارګروپ | مشترکه رسم الخط |
|---|---|---|
| تیګه | تیژه | تیږه |
| غګ | ژغ/ژاغ | غږ |
| روګدې | روژداي/ریژداي/ریژده | روږدی |
| کوګ | کوژ/ کېژ | کوږ |
| ګلی | ژلی/ ژالی/ ژالیې/ ژالې | ږلی |

| | | |
|---|---|---|
| ګیره | ژیره | ږیره |
| ګمنز | ژمنز/ ژمنځ/ ژمنج | ږمنځ |
| لوګه | لوژه | لوږه |

(۲) د /ژ/ د ادائیګي په بنیاد لهجې

/ژ/ د پښتو په مستندو فونیمونو کښې شمار ده مګر دې سره سره دا داسې اواز هم دی چې په ځینه لهجو کښې هم دغه شان اداکېږي او په ځینه کښې بیا په /ج/ یا په /س/ اوړي لکه د پېښور- یوسفزی ګروپ خلیل، مومند، مهمند، یوسفزي، محمدزي، سالارزي غرض د متنو نه تر دیره پورې خلق /ج/ وایي، د مزې خبره دا ده چې د خټک- قندهارګروپ یوه نمائینده لهجه یعني مروت واله کښې او د افغانستان په ځینو سیمو کښې د /ژ/ په ځاي /ز/ ادا کېږي، لاندې خټک - قندهار ګروپ، مروت واله لهجه او د پېښور- یوسفزی ګروپ ذکر شوي خلق په ترتیب سره په ۱، ۲، ۳ سره ذکر کوو:

| ۱ | ۲ | ۳ |
|---|---|---|
| ژبه/ زبه | زبه | جبه |
| ژرنده /ژندره/ زندره | زندره | جرنده |
| ژړا/ژړو/ زړا | زړا | جړا |
| ژور/ژوار/ زور | زور | جور |
| ژورې/ژوریې/ زورې | زورې | جورې |
| ژوند/زوند/ژمدین | زمدون | جوند |
| ژمای/زمای/ژمه | زمای | جمې |

او چې چرته مروت /ژ/ په /ز/ نۀ بدلوي او په خپل اصلي صورت کښې یې تلفظ کوي نو هلته د پېښور- یوسفزی ګروپ خلق هم هغه /ګ/ ادا کوي چې لړ مخکښې "د /ش/، /خ/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ صوتي تبادل" ترعنوان لاندې یې مثالونه راوړي شوي دي، دلته یو څو نور مثالونه راوړلی شي:

| ۱ | ۲ | ۳ |
|---|---|---|
| اوژد/ویژد | اوژد | اوګد |
| اوژه/اېژه | اوژه | اوګه |
| تژاي/تژه | تژاي | تګې |
| خوژ/خوېژ/خېژ | خوژ | خوګ |
| شپژ/شپېژ | شپژ | شپګ |

| | | |
|---|---|---|
| شپږه | شپږه | سپګه |
| غوږ/غووږ/غېږ | غوږ | غوګ |
| مږک | مږک | مګک |
| موږ/میږ | موږ | مونګ |

د دې مثالونو نه اندازه کېږي چې د /ږ/ او د /ج/ په بدلون کښې مروت واله لهجه زمونږ نمائندګي کولی شي، دلچسپه خبره دا ده چې افریدي، بنګښ، اورکزي، ځاځي چې د /خ/ او /ګ/ په ادائیګۍ کښې په ځینو لفظونو کښې د پېښور- یوسفزي ګروپ سره متفق دي، ولې بیا په /ږ/ کښې د هغوي سره اختلاف لري او د ختېکو، بنوڅو، وزیرو په شان /ږ/ په /ږ/ وایي لکه ژبه، ژور، ژوند، دوي دلته /ږ/ په /ج/ نه اړوي-

(۳) د /ز/، /ځ/، /ج/ او /س/، /څ/، /چ/ په بنیاد لهجې

بره چې ښاغلي کېږو او عبدالحلیم اثر صاحب د پېښورۍ او قندهارۍ لهجې ترمنځه کومه کرښه راښکلې ده هغه د /خ/ او /ش/ او /ګ/ او /ږ/ اوازونو په بنیاد خو درسته ګڼلی شو مګر د /س/، /څ/، /چ/ او /ز/، /ځ/، /ج/ په بنیاد به ناسمه وي یعني د دې اوازونو په بنیاد د دې کرښې دا شکل نۀ پاتې کېږي او د مزې خبره خو دا ده چې د مروتو ډله دلته /چ/ او /ج/ استعمالوي حالانکه دوي د قندهارۍ لهجې سره تعلق لري، دلته د دې خبرې وضاحت ضروري ګڼو چې خیال بخاري صاحب /څ/ او /ځ/ صوتئې نه ګڼي بلکه دا علامتونه دوي د /چ/ او /س/ او /ج/ او /ز/ فرق ختمولو د پاره وضع کړي شوي ګڼي په دې حواله چې دوي کومه دائره ورکړې ده هغه داسې ده:




د س/څ (Ts)

او د

ز/ج (Dz) اختلاف

(په دائره کښې خالي ځاي د مخصوص (ts) او (dz) تلفظ ښیي)" (12)

خیال بخاري صاحب لیکي چې

"د /خ/، /ش/ او /ګ/، /ږ/ په خلاف په /س/، /څ/ او /ز/، /ج/ کښې ټول اولس /س/ او /ز/ تلفظ کوي او صرف یوه وړه شانتې برخه د اولس /چ/ او /ج/ تلفظ کوي."(13)

"ښاغلی ډاکټر ټرمپ او پروفېسر نوراحمد شاکر صاحب /څ/ او /ځ/ صوتئې ګڼي." (14)

مګر ډاکټر خالدخان ختېک صاحب د خیال بخاري صاحب په څېر دا اوازونه صوتئې نۀ ګڼي ولې د دې اوازونو د علامتونو برقراره ساتلو په حق کښې دی، د دوي استدلال په لاندې ډول دی:

" ترڅو چې د دوی د صوتئې د حېثيت تعلق دی نو دا خبره درسته ده چې دا صوتئې نه دي خو که د دوی په اوازونو غور وکړی شي نو د دوي د وضاحت له پاره به ضرور داسې حرفونه ضروري وي چې هغه دوی د /ز/ او /س/ نه ممتاز کړي دې د پاره د "ځ" او "څ" حرفونه ډېر ضروري دي کوم چې د لهجو فرق واضح کوي او که په فطري طريقه /ځ/ او /څ/، په /او/ س/ کښې مدغم شي نو دا علامات بدلېدلی شي." (15)

منتظربېټنی صاحب هم دا صوتئې ګڼي او دا دعوه کوي چې.

"دا اوازونه جنوبي خټک، وزير، محسود، بنوڅي، دوړ، بېټني، شېراڼي، غلجي، د بلوچستان او قندهار د غاړې پښتانه په درست تلفظ سره ادا کولی شي."(16)

" او حبيب الله رفيع صاحب په دغه يادو شويو قبيلو کښې د افغانستان مرکزي پښتانه، د پکتيا زيات پښتانه او ټول غربي پښتانه ورزياتوي."(17)

ډاکټرهدايت الله نعيم صاحب دا ټول اوازونه (په شمول د /ښ/ او /ږ/) غبرګ مخرجه بولي چې د پېښوري لهجې خلق يې نيم ادا کوي او له نورو پښتني اوازونو سره يې خلط ملط کوي او بيا له صحيح غړونو نه انکاري شي، دوی په دې حقله ليکي:

"د پښتو دغه اوازونه په بنيادي توګه غبرګ مخرجه دي او دا اصلاً د (ځ) [/ځ/] دزۀ، (څ) [/څ/] تسۀ، (ژ) [/ژ/] ګژۀ او (ښ) [/ښ/] خشۀ يا کچۀ غوندې دي، وئيل او ادائېګي يې ګرانه ده او ځکه نو لږ خلق يې د ادا کولوجوګه دي او په دې وجه خصوصاً د لواړې لهجې خلق څوک چې ز، س، خ او ګ [/ز/، /س/، /خ/ او /ګ/] پېژني هغوي يې ډېر په ګرانه مکمل ادا کولی او تمثيلولی شي بلکه اکثر ترېنه دغه وړومبۍ برخه، کومه چې ساکنه ده، پاتې شي او باقي د دغو (ز، س، خ، ګ) [/ز/، /س/، /خ/ او /ګ/] سره لکه څنګه چې هم مخرجه دي، هم دغه نيمګړي ادا کړي." (18)

په هر حال لکه چې څنګه به د مخکښې بحث نه ښکاره وي، د /ځ/ او /څ/ په سلسله کښې د لسانياتو ماهرين او پوهان په دوو ډلو کښې تقسيم دي يوه ډله دا اوازونه صوتئې ګڼي او بله نۀ، په نورو لفظونو کښې خبره متنازعه ده، زه په خپله بنوڅی يم ولې د/څ/ او /س/ او دارنګ د /ز/ او /ځ/ تر منځه تفاوت نشم کولی، په هرحال /څ/ د /ت/ او /س/ ګډشانتې اواز دی او دا د پښتنو په سيمه کښې کله په /چ/ کله په /س/ او کله پخپل اصل شکل ادا کېږي ځکه نو /سادر/، /څادر/، /چادر/ يې درې قسمه بدلونونه دي په صوتياتو کښې داسې بدلونونو ته Free Variation وئيلی شي او دا په معنی کښې بدلون نۀ راولي، دارنګ /ځ/ د /د/ او /ز/ ګډشانتې يو اواز دی د دې صوتئي بدلون په /زيګر/، /جيګر/ او /ځيګر/ کښې کتلی شو-

د /ز/، /ځ/، /ج/ او /س/، /څ/، /چ/ د بدلون مثالونه:

(1) د /ز/، /ځ/، /ج/ مثالونه:

| **پېښور- یوسفزۍ ګروپ** | **خټک ګروپ - قندهار ګروپ** | **د لیک ژبه** |
|---|---|---|
| خزه | شزه/ شځه/ شجه | ښځه |
| زناور | زناوار/ځناوار/ځناور/جناور | ځناور |
| زنګل | زنګال/ځنګال/ځنګل/جنګال | ځنګل |
| زواب/زووب/جووب | زواب/زووب/ځواب/جووب/جووب | ځواب |
| زوان/زوون | زوان/ځوان/زوون/جوان | ځوان |
| زیګر | زیګر/ځیګر/جیګر/زیګار/ځیګار | ځیګر |
| ورز | ورز/ورځ/ورج/وربز | ورځ |

تاسو وکتل چې په دې لفظونو کښې مروت دلته /ز/ یا /ځ/ په /ج/ ادا کوي مګر هرکله چې د /ج/ فونیمي بڼه هم موجوده ده نو هلته /ج/ هم دغه شان ادا کېږي لکه جومات، جمدر، جوت، جودر، جینۍ، جام، باجه، باجره، تاج، جونه، جېب، جوړول، جنګ، جنت او نور-

(2) د /س/، /څ/، /چ/ مثالونه:

| **پېښور- یوسفزۍ ګروپ** | **خټک ګروپ - قندهار ګروپ** | **د لیک ژبه** |
|---|---|---|
| سادر | سادر/څادر /چادر/تازر | څادر |
| ساسکي | څاڅکي/ساسکي/سوسکي/ څوڅکي/ چاچکي | څاڅکي |
| سپلۍ | سپلۍ/څپلۍ/سپلیې/څپلې/ چپلۍ | څپلۍ |
| سپېره | سپېره /څپېره /چپېړ | څپېره |
| سرمن | سرمن /څرمن /چرمن | څرمن |
| سک | سک/ساک/څک/چک | څک |
| سورب | سورب/سېرب/څورب/چورب | څورب |

دلته بیا مروت واله لهجه زموږ نمائندګي کوي یعني هغه لفظونه چې په /س/ یا /څ/ ادا کېږي مروت هغه په /چ/ ادا کوي او چې چرته دوي /چ/ سخته ادا کوي هلته بیا په هره لهجه کښې /ڇ/ وئیلی کېږي لکه چاودون، چل، چرته، چا، چرګ او نور کښې، او هم دا /چ/ د پښتو مستند فونیم دی.

(۴) د واول په بنیاد لهجې:

د پېښور- یوسفزۍ ګروپ او خټک - قندهار ګروپ ترمنځه داسې خلق موجود دي چې د هغوی ژبه موږ د /خ /، /ش/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ په بنیاد د ذکر شویو ګروپونو سره تړلی شو. مګر دلته علي اوازونه له دواړو ګروپونو څخه مختلف دي دلته د /خ/، /ش/، /ښ/ او /ګ/، /ژ/، /ږ/ اوازونه هم تدریجاً بدلېږي داسې د دغو خلقو ژبه دواړو غټو لهجو له پاره د Transit کارکوي. په نورو لفظونو کښې که موږ پېښور- یوسفزۍ لهجه بنیاد وګڼو نو د خټک- قندهار لهجې ته په منتقل کېدو به اول د دغه لهجې شکل اختیاروو چرته هله به هغه بلې لهجې ته رسو. او که خټک - قندهار لهجه بنیاد وګڼو نو دا لهجه یو دم د پېښور- یوسفزۍ لهجې ته نه اوړي بلکه اول د دې خلقو د ژبې شکل اختیار کړي. او بیا په پېښور- یوسفزۍ لهجه بدله شي، ښاغلي اولف کېرو ته هم د دې خبرې احساس وۀ هغه اګرچه د لسانیاتو ماهرنۀ وۀ ولې بیا یې هم د دې لهجې دا اهم خاصیت هېر نۀ کړی شو، دوي د خپل کتاب The Pathans په سریزه کښې لیکي:

> "د ختیځو او لویدیځو افغانانو ترمنځ د غرنیو سیمو اوسېدونکي ژوند کوي او تر یوه ځایه پورې دا لر او بر افغان سره بېلوي، ډېر مشهور یې په سرحدي صوبه [اوس خېبرپښتونخوا] کښې لکه اپریدي، خټک، اورکزي، بنګښ، وزیر، محسود، توري او داسې نور چې هر یوې ځانګړې او بې شمېره خاطرې لري، د دوي ژبه په لهجو لحاظ سره ورته والی لري او هره پښه په اصل کښې ځان کرلاڼي بولي او ځان افغان نه بولي." (19)

د ښاغلي کېرو د دې اقتباس مهمې نکتې دا دي:

**اول**: د لرې او برې پښتونخوا تر منځه غرني خلق ژوند کوي.

**دویم**: په کوزه پښتونخوا کښې په غرني خلقو کښې مهم کرلاڼي دي.

**دریم**: د کرلاڼیو ژبه (د ذکر شویو قبیلو) پخپلو کښې سره اشتراک لري.

په دې منطقه کښې بنوڅي او داوړ هم شامل دي جې ښاغلي کېرو یې یادونه نه ده کړې دا خلق تقریباً په یوسل مېله تېرې پټۍ کښې مېشته دي، دا پټۍ د پېښور- یوسفزۍ او د خټک - قندهار لهجې ترمنځه د اټک نه تریکټیا پورې رسېدلې ده په لره پښتونخوا کښې په دې پټۍ کښې د کوهاټ، کرک، بنوں، او د وزیرستان منطقې شاملې دي، په دې سربېره اورکزۍ ایجنسي، هنګو، ټل، سده او پاړه چنار علاقې هم د دې ګروپ سره تعلق لري، د اولف کېرو نه مخکښې ښاغلي مارګن سټېئیرنې د

دې پټې لهجوي اشتراک او تنوع ځان ته راکاږلی وه، د دوي په خيال دا سيمه ځکه مهمه ده چې په دې کښې د غلزو، سوات او پېښور په نسبت لهجې زياتې دي، لکه چې دوي ليکي:

**ژباړه**:"د پښتو لهجوي تنوع د بلوچۍ [بلوڅۍ] ژبې نه کافي زيات دی او په افغانانو کښې خانه بدوش غلزي او نسبتاً په پېښور او سوات د نږدو وختو حمله آور د کم لهجوي تغير ښودنه کوي د دې برعکس د پښتو ويونکيو منځنۍ حصه په زياتو لهجو کښې تقسيم ده." (20)

هرکله چې منځنۍ حصه دومره د اهميت وړ ده نو د دغې حصې د لهجو پېژندګلي ضروري ګڼو نو په دې برخه کښې لهجوي تنوع د واول په بنياد ده ځکه چې د پښتو ژبې په نورو لهجو کښې د عِلي اوازونو دومره اختلاف نشته د عِلي اوازونو د تبادل په نتيجه کښې کله کله لفظ داسې معنې ورکوي چې په پېښور - يوسفزۍ او قندهار لهجه (د وزيرو بنوڅو نه اخوا د کويټې په لور پراته پښتانه) کښې يې هغه معنې نه وي، ښاغلي مارګن ستېئيرنې د عِلي اوازونو تبادل داسې ورکړی دی:

**ژباړه**: په شرق مرکزي لهجو کښې، له افريديو تر وزيرو، د عِلي اوازونو د بدلون يو رجحان موندلی شي، په وزيرۍ او د بنوں په لهجو کښې چرته چې دا رجحان زيات دی د عامې پښتو /ا/، /و/"، /و/ په /و/، /ې/ او /ي/ او د دې سره /ٙ/ اکثر په /ا/ يا /ې/ هم بدلېږي." (21)

د مارګن ستېئيرنې د پېراګرف اهمې نکتې دا دي:

(1) دا ګروپ د عِلي اوازونو په بنياد تشکيل شوی دی

(2) په دې ګروپ کښې د افريديو نه تر وزيرو پورې خلق شامل دي

(3) په وزيرۍ او بنوڅۍ لهجو کښې د عِلي اوازونو تبادل زيات دی

(4) په دې لهجو کښې /ا/ په /و/ بدلېږي

(5) /و/ [واو مجهول] په /ې/ [ياي مجهول] بدلېږي

(6) /و/ [واو معروف] په /ي/ [ياي معروف] بدلېږي

(7) او دلته /-/ [زبر] په /ا/ يا /ې/ [ياي مجهول] بدلېږي

اوس د دې عِلي تبادل څو مثالونه وګورئ:

| پېښور– يوسفزۍ لهجه | د وسطي برخو لهجه |
|---|---|
| پلار | پلور |
| کار | کور |
| ماخام | ماشوم/ ماخوم |
| خکار | شکور/ خکور |

| | |
|---|---|
| کور | کېر/ کور |
| مور | مېر/ مور |
| خور | خېر/خور |
| لور | لېر/ لور |
| سور | سېر/سور |
| مونګ | میږ/مو |
| توره | تیره/ توره |
| کټ | کاټ/کټ |
| ور | وار/ور |
| د (حرف اضافت) | دې /د |
| شپګ | شپېږ/شپګ |

په دې مثالونو کښې دوه مثالونه /کار/ او /کور/ دي څه ته چې د پښوری، لهجې خلق /کور/ Home وایي د وسطي برخو د لهجې خلق هغه د /چارې/ د پاره استعمالوي داسې نور هم ډېر مثالونه شته لکه واخلئ /تور/ په دې مثال کښې هم د علِي غږ په وجه لويه مسئله پېدا کېږي د پېښوری، لهجې خلق /تور/ یو رنګ ته وایي چې په انګرېزی، ژبه کښې ورته Black استعمالېږي ولې د دې برعکس د وسطي لهجې خلق /تور/ د /تار/ Wire or thread له پاره پکاروي خو دلته دا هم د هېرولو خبره نه ده چې په دې ګروپ کښې څنې قبیلې د پېښوری، لهجې غوندې /تور/ هم د پېښوری، لهجې معنو کښې استعمالوي ځکه چې دا یوه لهجه هم نه ده بلکه د لهجو یو ګروپ دی او د دې ګروپ هره یوه لهجه څه ځانګړې خصوصیات لري چې یوه لهجه له بلې بېلوي بلکه کله کله په نژدو قبیلو کښې هم لهجوي فرق وي د مثال په توګه وزیر او مسید د یوه پلار اولادونه دي مګر د دوي په لهجو کښې هم تفاوت شته لکه چې لاریمر لیکي :

**ژباړه**: "وزیری، پښتو یوه لهجه ده (بلکه په دې کښې مختلفې لهجې دي) چې په وزیرستان او د ضلع بنو ں په یوه حصه کښې وئیلی کېږي د دې ضلعې بریدونه د سرحد په هره نقشه کښې کتلی شو." (22)

او هم دغه خبره ګرئیرسن کوي:

**ژباړه**:"د ټولو وزیری، لهجو نمونې راوړل به نامکن وي، کومې چې په یوه بله په غېرمحسوسه توګه اثرغورځوي او د یوې قبیلې لهجه له بلې قبیلې بلکه یوه حصه له بلې اختلاف لري، هم د یوه سېکشن د کورونو لهجه، چې څو نسلونو راهیسې له یوۀ بل جدا شوي وي، هغه نه پاتې کېږي، د یوه کلي تلفظ له بل کلي مختلف وي او دا پېچیدګي دومره زیاته ده چې هم یو

سرې هم هغه یو لفظ کله کله بل شانتې ادا کوي خو د دې اختلافاتو باوجود دوه وزیر د یو بل په خبرو ښه په اسانۍ سره پوهېږي." (23)

د وسطي برخې هغه خلق چې د قطب په لور پراته دي، په دې اوازونو کښې د پېښوروۍ لهجې په ګروپ کښې راځي او دلته په دې بره مثالونو کښې چې د وسطي برخې د لهجې کوم دوه دوه لفظونه ورکړې شوي دي. په دې کښې دوېم لفظ هم د هغو خلقو دی چې په / خ/، /ش/ او /ګ/، /ژ/ کښې د پېښوروۍ لهجې سره مطابقت لري. د دې نه دا خبره نوره هم څرګنده شوه چې د واول په بنیاد یو ګروپ د وزیرو، مسیدو، بنوڅو او د داوړو دی. چرته چې د عِلي اوازونو تبادل ډېر زیات دی او هم دغوقبیلو بنګښ، افریدي، جنوبي خټک وغېره د عِلي اوازونو ځحقله متاثر کړي دي چې د دې سیمې بل ګروپ دی د عِلي اوازونو تبادل له قطب نه سوېل په لور زیاتېږي او له هغه بل لوریه کمېږي، مارګن سټېئیرنې هم داَ وئېل غواړي:

**ژباړه**:"له دې مرکز (د بنوڅو او د وزیرو علاقې) څخه دا رجحان خورشوی دی او سخته لهجه لکه افریدي او بنګښ ې هم متاثر کړي دي- د مزې خبره دا ده چې هغه قبیلې چې د دې لهجو نمائندګي کوي، د روایاتو مطابق له نورو افغان قبېلو مختلف نسلي بنیادونه لري." (24)

د بحث خلاصه دا شوه چې.

"ځنه بنګښ، افریدي، جنوبي خټک وغېره /ا/ په /و/ بدلوي د دې برعکس د دې لهجې نور ویونکي چې سوېل ته پراته دي. د دې سره سره /و/ هم په /ې/ بدلوي، بله دا خبره هم د یادونې وړ ده چې دا لفظونه د منځني ګروپ مخصوص لغات (Vocabulary) هم نه شو بللی. ځکه چې د یوې لهجې یا د لهجې ګروپ مخصوص لغات د واول په بنیاد نه جوړېږي. بلکه هغه داسې الفاظ وي چې که د قاعدې مطابق یې واول د معیاري لهجې سره برابر هم کړلی شي بیا هم د دې لفظونو او معنو نه د معیاري لهجې خلق ناخبره وي. لکه د بنوڅۍ لهجې یومخصوص لغت /ډیګل/ دی اوس که د لته په دې ټکي کښې موجوده /ې/ د قاعدې مطابق په /و/ بدله کړلی شي نو دا لفظ به /ډوګل/ شي ولې بیا هم په دې ټکي د پېښوریانو پوهېدل ګران دي، د وسطي لهجې د اولني ګروپ یو بل خصوصیت دا دی چې په دې کښې د پېښوروۍ لهجې /ې/ (e) په /اي/ (ai) بدلېږي، خیال بخاري صاحب د دې لهجې دا خاصیت ذکر کړی دی."(25)

د /اي/ په حقله دا بدلون هم په اسم کښې دی او هم په فعل کښې، په دې اوازونو کښې به اسم لازماً مذکر وي. او فعل به هم هغه وخت دا اواز پېدا کوي چې کله د مذکر له پاره راوړلی شي خو دا خاصیت په وسطي او قندهارۍ لهجه کښې مشترک دی. مګر بیا به هم دلته په دې بحث کښې د وسطي لهجې خیال ساتلی شي په دې سلسله کښې دا مثالونه وګورئ:

**(ا) اسمونه**:

| پېښور- یوسفزۍ لهجه | منځنۍ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|
| سړې | سړاي | سړی |
| لېونې | لېوناي | لېونی |
| سپړلې | سپړلاي | سپړلی |
| اسوېلې | اسوېلاي | اسوېلی |
| سپې | سپاي | سپی |

**(ب) فعلونه**:

| پېښور- یوسفزۍ لهجه | منځنۍ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|
| سړې تلې دې | سړاي تلاي داي/ سړاي تلاي دا/ سړاي تلا دا/ | سړی تلی دی |
| الک ام خوړلې دې | ژنکي/وېړکي ام خوړلاي داي/ وېړکي ام خوړلا دا | هلک ام خوړلی دی |
| غشې جنګ کې په کار راتلې شي | غېشاي/غېشا جنګ کشې/شې په کور رتلاي شي | غشی جنګ کښې په کار راتلی شي |

**(ج) مددګار فعل**:

| پېښور- یوسفزۍ لهجه | منځنۍ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|
| دې (د نر د پاره) | داي/ده | دی |

مروت مذکر او مؤنث دواړو د پاره مددګارفعل /ده/ استعمالوي-

**(د) ضمیر اسم**:

| پېښور- یوسفزۍ لهجه | منځنۍ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|
| دې (یو غائب، د نر د پاره) | داي | دی |

او واحد غائب (مونث) د پاره /دو/ استعمالیږي.

د وسطي لهجې د اولني ګروپ یو بل مهم خصوصیت دا دی چې دلته فعلي /ې/ [/e/]په /یې/ [/ye/] اوړي مګر هغه وخت چې فاعل مونث وي دا اواز په لاندینیو مثالونو کښې واورئ:

| | پېښور – یوسفزۍ لهجه | د وسطي برخې لهجه |
|---|---|---|
| (۱) | خزه راغلې وه | شزه/شځه روغلیې وه |
| (۲) | حمیده تلې ده | حمیده تلیې دو |

(۳) خبره شوې ده خبره شوېې دو

د اواز دا بدلون په اسمونو کښې هم شته خو هرکله چې په اسمونو کښې د وسطي ګروپ ټولې لهجې دا اواز نه لري او د بنوڅۍ لهجې سره خاص دی.

په اخير کښې يو ځل بيا دا خبره تکراروو چې د واول په بنياد د وسطي ګروپ دوه ښاخونه دي يو د بنوڅيو، وزيرو، مسيدو او داوړو دی او بل ګروپ د افريديو، بنګښو، جنوبي ختټکو او نورو دی چې استثناء هم لري، د مورګن ستټيرنې په قول د واول په حواله اخرنی ښاخ اولنې ښاخ متاثره کړی دی.

پورته چې د واول په بنياد د وسطي ګروپ کوم درې خاصيتونه په ګوته کړل شول دا هغه غټ خاصيتونه دي چې د دې ګروپ په هره لهجه کښې مشترک دي او هم دا خصوصيات دي چې دې ګروپ ته يې انفراديت بخښلی دی، ترڅو چې د دې ګروب د هرې وړې لهجې تعلق دی نو هغه خپلې خپلې ځانګړنې لري چې د دې ګروپ هره لهجه له بلې بېلوي او دا ځانګړي خاصيتونه تقاضا کوي چې په هره لهجه دې ځانته کار وشي.

## حوالې


1. Naeem, Hidayat Ullah, Dr., Factors behind the abstruseness of Pashto Proverb, PUTAJ, Vol.: 4, 1996-97, P:121
2. هېواد مل، زلمی،سرمحقق، د پښتو نثر اتۀ سوه کاله، ملت پرنټرز، لاهور، (۱۹۹۶)، مخ: ۵۵
3. ، بخاري، خيال د پښتو ژبې بنيادي مسئلې، مشموله: پښتو، پېښور،( جولائي ۱۹۶۴ء تا دسمبر۱۹۶۵ء) جلد: ۸/۷، شماره: ۴/۳
4. خټک، خالد خان،ډاکټر، سندهي، پشتو اور اردو کے لسانی روابط، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، پېښور،(۲۰۰۷)،مخ: ۱۲۴
5. پرېشان خټک، پروفيسر،ليک دود، پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ، لاهور،(۱۹۸۹)،مخ،۱۷-۱۸
6. نعيم، هدايت الله، ډاکټر،د پښتو د يوې معياري املاء په هڅه، مشموله: پيوټاج، پېښور، (۱۹۹۶) جلد: ۳، مخ: ۴۶
7. نعيم، هدايت الله، ډاکټر،د پښتو ژبې په علمي، تحقيقي او تخليق کښې د لوستونکيو مسائل، مشموله: پښتو، پېښور، جلد: ۲۸، شماره: ۱۱/۱۰، ( اکتوبر/نومبر ۱۹۹۶)، مخ: ۴۸
8. کېرو، سراولف، دي پټهانز(مترجم) شېرمحمد کريمي، دويم څل، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور،(۲۰۰۴)، مخ: ۹
9. همدغه اثر، مخ: ۸
10. اثر، عبدالحليم، سالارزی، پښتو ادب، ادارۀ اشاعت سرحد، پېښور، ، مخ: ۳۰
11. همدغه اثر، (۱۳۷۱ھ)، مخ: ۳۱
12. خيال بخاري، د پښتو ژبې بنيادي مسئلې، مشموله: پښتو، مخ: ۱۷۷
13. همدغه، مخ: ۱۷۸
14. ټرمپ، نوراحمد شاکر، (بحواله): سندهي، پشتو اور اردو کے لسانی روابط، مخ: ۱۵۵-۱۵۶
15. خالد خان، خټک، ډاکټر، سندهي، پشتو اور اردو کے لسانی روابط، مخ: ۱۵۶-۱۵۷
16. بېټنی ،منتظر، پنځه حرفونه ديارلس اوازونه، پښتو ادبي مجلس ټانک،(۱۹۷۴ء)، مخ: ۲۱-۲۲
17. رفيع، حبيب الله،زنځيرى يا خط نامه، خوشحال ريسرچ سيل، پېښور،(۱۹۸۵ء)، مخ: ۸۹
18. نعيم، هدايت الله، ډاکټر، د پښتو د يوې معياري املاء په هڅه، مشموله: پيوټاج، مخ: ۴۹-۵۰
19. کېرو، سراولف، دي پټهانز(مترجم) شېرمحمد کريمي، مخ: ۷

20. Morgenstirne, George, Report on a Linguistic Mission to North-Western India, Indus Publication, Karachi, 1932, P: 17
21. Ibid, P:18
22. Lorimer, J.G., c.f. Linguistic Survey of Pakistan, Vol.: 2 by Grierson, Accurate Printers, Lahore, No date of print, P: 96
23. Ibid, P: 97
24. Morgenstirne, George, Report on a Linguistic Mission to North-Western India, P: 18
25. خیال بخاري، پروفیسر، سید، اتالیقِ پشتو، دویم ځل، د چاپزی پرنټرز، پشاور، (۱۹۸۴ء) مخ: ۱۰